بسم الله الرحمن الرحيم

**د امت د زیږون وروستۍ شېبې!**

**(ژباړه)**

اسلامي امت نن ورځ د خپل معاصر تاریخ په تر ټولو حساسو پړاونو کې دی، ځکه د امریکا په مشرۍ استعمارګرانو پرې یرغل کړی دی. د دغه وضعیت په مقابل کې اسلامي امت د یوې داسې چوپتیا په حالت کې دی، چې د اروپا پاملرنه او ان اندېښنه یې راپارولې ده. دې چارې اروپا اړ ایستلې چې خپل باتجربه مفکرین او سیاستوال د اسلامي امت د وضعیت د مطالعې او پېژندلو لپاره ډګر ته را وباسي. دغه چوپتیا که څه هم په ظاهره له ناهیلۍ سره یو ځای د یوه ترخه انتظار ښکارندويي کوي، خو په خپله غېږ کې د یوه ایشېدونکي دېګ په څېر ده. په دې توګه دا وضعیت د نورو په ټولنو په څېر له هغو کسانو خالي نه دی، چې ناهیلي دي او تشې اوازې خپروي. په حقیقت کې دغه کسان د تنګ‌نظرۍ او سطحي‌فکرۍ ځانګړنه لري او په مادي محاسبو کې ډوب شوي دي، پرته له دې چې د امت د قدرت پټو اړخونو او د دښمن پټو کمزوریو ته پام وکړي. سربېره پر دې هغوی په ټولنو کې له طبیعي قوانینو او الهي سنتو څخه ناخبره دي.

په سختو او بحراني حالتونو کې د هغه ربښتیني رهبر ځای څرګندېږي، چې د امت له زړه څخه راټوکېدلی وي او پر خپل دین ولاړ وي. موږ وینو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه مهال چې قریشو پرې سخت فشار راووړ، خپل کاکا ته وفرمایل:

**«لَوْوَضَعُوا الشَّمْسَ فِي يَمِينِي وَالْقَمَرَفِي شِمَالِي عَلَى أَنْ أَتْرُكَ هَذَا الْأَمْرَحَتَّى يُظْهِرَهُ اللهُ أَوْ أَهْلِكَ فِيهِ مَا تَرَكْتُهُ»**

**ژباړه:** *که څېرې لمر مې په ښي لاس کې او سپوږمۍ مې په کیڼ لاس کې کېږدي، ترڅو دغه کار (اسلام ته دعوت) پرېږدم، خو هېڅکله به دا کار ونه کړم، مګر دا چې الله تعالی بریا راکړي او یا په دغه لاره کې خپل ژوند له لاسه ورکړم.*

دلته رسول الله صلی الله علیه وسلم د استقامت، صبر، شجاعت، پر حق درېدو، د قربانۍ لپاره د وړاندې کېدو او چمتووالي نمونه دی؛ هغه قربانۍ چې خلک یې په وجود کې صداقت له ورایه حس کوي.

د بدر په جګړه کې موږ وینو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو یارانو په زړونو کې د عزم او ارادې روح پوه کوي، د هغوی روحیه تقویه کوي، د هغوی لپاره دعا کوي او د دعا لپاره په ډېر اخلاص لاسونه پورته کوي.

همدارنګه موږ وینو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د تبوک په غزا کې مسلمانان رهبري کوي، له هغوی سره د دښتو له منځه تېرېږي، ترڅو له رومیانو سره د شام په خاوره کې وجنګېږي، هغه مهال چې پر مدینه د هغوی له برید څخه خبر شو. رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه اقدام سره د رهبرۍ یوه داسې بېلګه وړاندې کړه، چې د پیروۍ وړ ده.

په احزاب غزا کې موږ وینو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل یاران ډاډمنوي، کله چې سخته وېره او اندېښنه پر دوی حاکمه شوې وه او زړونه یې تر ستوني رسېدلي وو. هغه صلی الله علیه وسلم د بریا زیری ورکړ او هغوی ته یې وفرمایل:

«لَنْ تَغْزُوَكُمْ قُرَيْشٌ بَعْدَ عَامِكُمْ هَذَا، وَلَكِنَّكُمْ تَغْزُونَهُمْ»

**ژباړه:** *قريش به له سږنۍ کال وروسته پر تاسو بريد ونه کړي، بلکې تاسو به پر هغوی بريد وکړئ.*

دلته رسول الله صلی الله عليه وسلم د انسانانو د قوت له عناصرو څخه د کارونې ورتيا ښکاره کوي او په دوی کې د دغو ځواکونو په ژوندي کولو سره هغوی له ماتې او ناهيلۍ څخه ژغوري. همدارنګه هغه صلی الله عليه وسلم خپلو يارانو ته د دښمن کمزوري ټکي په ګوته کوي او هغوی له دغو کمزور ټکو څخه د ګټې اخيستنې لپاره رهبري کوي.

دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مبارک سيرت د سمندر يوه څنډه ده؛ هغه څوک چې غوره رهبر او الګوه و. ايا موږ دغه سيرت ته ورګرځېدلي يو، ترڅو د هغه پر ګامونو پلونه کېږدو، په ځانګړې توګه د سختۍ او ناورين په شېبو کې؟

نن ورځ اسلامي امت له رښتيني رهبر څخه محروم دی او که ووايو چې د رهبرۍ له خلا سره مخ دی، نو غلط به مو نه وي ويلي. اې مسلمانانو! ايا نه وينئ چې ستاسو حکام خپل ژوند د پرديو استعمارګرو په خدمت کې تېروي او ستاسو پر شتمنيو او سرچينو واکمني کوي؟ ايا نه وينئ چې هغوی له شرم پرته په ښکاره توګه اعلان کوي، چې ذليل او بېوسه دي، پرته له دې چې ګدايۍ ته لاس وغځوي؟ او ايا نه وينئ چې هغوی ستاسو پر ورانديې د پرديو د تلسط لپاره لار هواروي؟

نن ورځ موږ ګورو چې د شبيحه ډلې د غربي دولتونو د پټ ملاتړ او د اوسني دولت د غفلت په سبب، تر پخوا ډېرې بېباکه او ظالمې شوې دي. دغه وضعيت هغوی نورې هم زړورې کړې او د هغوی بېشرمه غوښتنې يې ډېرې کړې دي، په داسې حال کې چې وضعيت په حساس پړاو او د جدي بدلونونو په درشل کې دی.

دغه حساس پړاو چې موږ پکې نن ورځ ژوند کوو، د هر هغه چا لپاره رسوا کوونکی پای دی، چې د اسلامي دعوت د پلوۍ او پر ځمکه د الله سبحانه وتعالی د شريعت د پلي کولو د دفاع ادعا يې کوله. همدارنګه د هغو کسانو له مخ څخه پرده لرې کوي، چې د خپلو مخکينيو کړنو په سبب پټ شوي دي او وايي چې موږ مجبور وو او نظام پر ټولو فشار راوړي. نن ورځ د ازادۍ ډګرونه زموږ د غوښتنې خلاف، د هغو کسانو د رسوا کولو پر صحنه بدل شوي، چې خيانت او په غرب پورې تړاو يې په زړونو کې پټ وو. هغوی د همدغو ښکاره حرصونو په سبب د نظام تر څنګ په ناوړو کړنو لاس پورې کړ. اوس چې نظام خپل پای ته نږدې شوی دی، دوی له خپلو تېرو کړنو بېزاري څرګندوي، خو د زياتې ازادۍ له مخې ټول هغه څه چې په زړونو کې يې لري، په ښکاره توګه څرګندوي. نو هر څوک چې غواړي اسلام پلی کړي، بايد شرعي حکم ته ژمن وي او خپلې هڅې جاري وساتي؛ تر هغه وخته چې دغه بريا، چې د الله سبحانه وتعالی له لوري راغلې، خپلې سپېڅلې پايلې ته نه وي رسېدلې. له دې پرته به يې الله سبحانه وتعالی خلکو ته پرېږدي او پايله به د هغوی په زيان تمامه شي، ژر يا وروسته. په دې هيله چې اسلامي امت بيدار او هوښيار شي.

د امت پر علماوو واجب ده چې نن ورځ بايد د هغه څه پر بنسټ عمل وکړي، چې شريعت مکلف کړي دي؛ که هر څومره دغه مسير قيمتي هم تمام شي. موږ په دغه حساس پړاو کې مکلف يو چې په خپلې سياسي پوهې سره امت د هغه څه په لوري هدايت

کړو، چې د الله سبحانه وتعالی د رضایت سبب ګرځي او د دغه پړاو تړولې سختۍ پر ځان ومنو؛ تر هغو چې شرعي حکم ته ژمن پاتې و.

اوسنۍ وضعیت په رښتیا د یوه داسې پړاو استازیتوب کوي، چې د زیږون له درد سره تشبیه کېدلی شي؛ یعنې د وینې له تویېدو، چټلیو او د پلیدیو له څرګندېدو سره یو ځای. دا ټول په حقیقت کې د نوي زیږون د پیل لپاره پاکول دي، چې له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو ترڅو دغه وخت رانږدې شي. همدارنګه دعا کوو چې موږ د الله سبحانه وتعالی لپاره په خالصه توګه عمل وکړو، ترڅو په هغه پړاو کې د حضور وړتیا ترلاسه کړو! انشاءالله!

همدارنګه هغه څه چې نن ورځ ترسره کېږي او هغه څه چې د تېر نظام د جوړښتونو د بیا راګرځېدو په ډګرونو کې یې وینو، موږ ته درد او کړاو راکوي. د دې تر څنګ بې‌ځایه عفوه او بښنه چې هغو کسانو ته ورکول کېږي، کومو چې خلک ووژل، سرونه یې پرې کړل، تېري یې وکړل، کفر یې وکړ او هر غیرانساني عمل یې ترسره کړ، خو بالاخره دغه بې‌ځایه عفوه به پخپله د دوی پر زیان تمامه شي؛ ځکه چې په ناسم وخت کې عفوه کول، پخپله جرم دی.

مګر د سیکولرېزم هغه بېلابېلې ډلې چې د "مدني ټولنه" په څېر نومونو پېژندل کېدلې او یا دغه ډول نورې ډلې، دوی نن ورځ خپله اصلي څېره څرګندوي. دوی له هغو چټلیو پرته بل څه نه دي، چې د دغه امت رحم یې لرې کوي، ترڅو له بې‌ارزښته چټلیو سره څنګ ته وغورځول شي. الله سبحانه وتعالی موږ ته د نبوت پر منهج شرعي او سپېڅلی زیږون را په برخه کوي؛ هغه زیږون چې داخلي جوړښت یې پاک وي، ترڅو د دغه سېلاب پر وړاندې مقاومت وکړای شو.

هغه څه چې پېښېږي، زموږ لپاره دردوونکي دي، خو موږ باید ناهیلي نه کړي؛ بلکې زموږ په زړونو کې باید د هیلو ډېوې بلې کړي او موږ باید عمل او هغه څه ته اړ کړي، چې د الله سبحانه وتعالی په کتاب او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په سنتو کې راغلي دي.

د سیاسي پوهې لرونکو افرادو ځانګړنه دا ده، چې د چارو رهبري باید شرعي احکامو ته په پابندۍ سره په هغه ډول وکړي، څنګه یې چې الله سبحانه وتعالی امر کړی دی. د هغه موخه دا ده چې د امت مرسته وکړي او مسیر یې اصلاح کړي. دا امت سرېېره پر دې چې اخلاص لري، د هغو شرایطو په سبب چې پرې تېل شوي دي، د تفکر په طریقه کې له انحراف سره مخ شوی دی؛ داسې چې واقعیت وینې او هغه د تشریع (قانون جوړونې) منبع ګرځوي او په دې توګه په خپلو تحلیلونو او اړیکو کې تېروتنه کوي. سره له دې دا امت سمه عقیده لري، خو دا عقیده په سمه توګه نه ده عملي شوې. هغوی پوهېږي چې ټول شیان د الله سبحانه وتعالی په لاس کې دي؛ خو د غرب له قدرتونو، د هغوی له بېړیو، پوځونو او همدرانګه له خاینو او بدو (مرجفون) څخه وېره لري. دا وېره د دې لامل کېږي چې ځانونه قانع کړي، چې د دوی رهبري باید پراګماتیکه څېره ولري؛ هغه څوک چې له سیاست سره موافقه وکړي او د دوی په ګومان د دولت حیثیت وساتي. دغه ډول رهبران د حقایقو او اصطلاحاتو په تحریفولو سره خلک صبر ته رابولي او له دوی سره ژمنه کوي چې د سېکولر دولت د موسسو تر سیوري لاندې ورته یو روښانه راتلونکی په تمه دی.

دوی د هغې ارامۍ په اړه خبرې کوي، چې یوازې د ذلت او د غرب د بشپړ تابعیت په پایله کې ترلاسه کېدلی شي. په همدغه دلیل موږ وینو کله چې غرب وروسته له دې چې پر حالاتو واک ترلاسه کوي او له هغې بریا څخه ګټه اخلي، چې الله سبحانه وتعالی موږ ته راکړې، په تدریجي توګه او د امت د غبرګون په ارزولو سره د محکم دولت د جوړولو هڅه کوي. دا همغه څه دي چې په سوریه کې پېښ شول. هغه جنایتونه چې د سورېې په زندانونو کې ترسره شول، د انکار وړ نه دي، خو رسنیو دا مسله په لوی لاس غټه وښوده. دغه اقدام له وړاندې پلان شوی و، ترڅو عامه افکار د پردې تر شا له بدلونونو، یعنې د نوي حکومت له جوړېدو، څخه بې خبره شي. پر همدغه اساس ټولنه دې ته وهڅول شي، چې په داسې یوه دولتي چوکاټ کې ژوند ومني، چې "د نورو نظرونو" ته احترام تبلیغ کوي. د هغو کسانو لپاره دا پخپله یوه لویه لاسته راوړنه ګڼل کېږي، چې دغه نظریه خپروي.

له بده مرغه هېره کړې یې ده، چې موږ د رب العالمین له لوري مامور شوي یو، چې د الله سبحانه وتعالی حکم پر ځمکه پلی کړو او په دې لاره کې تنبلي ونه کړو. الله سبحانه وتعالی موږ ته وعده راکړې، چې هغه مهال به زموږ مرسته وکړي، کله چې د هغه اوامر پر ځای کړو او له نورو قدرتونو څخه ونه وېرېږو، بلکې یوازې له هغه سبحانه وتعالی څخه ووېرېږو.

هغه فرېب چې نن ورځ طرحه کېږي، ډېر ژر به پخپله د هغوی پر ضد ور وګرځي. هغوی به په راتلونکو ورځو کې پوه شي، کوم څه یې چې ترسره کړي، یوازې د انقلاب غلا کول وو او له دغه انقلاب څخه موږ ته هېڅ لاسته راوړنه نه ده پاتې شوې. د پخواني نظام بنسټونه به یو ځل بیا صحنې ته راوګرځي، که څه هم د هغه مشر او مشهور قصابان یې حذف شوي دي، خو د نظام جوړښت به په همغه ډول بشپړ پاتې شي. د دغه هدف لپاره هغوی د لاندې اقداماتو له لارې د شرایطو د برابرولو په حال کې دي:

**لومړی:** عمومي عفوه ده او ښایي په رسمي توګه اعلان شي، چې د دواړو لوریو ټول غړي به پکې شامل وي؛ یعنې د نظام ملاتړي او مخالفین. په دې توګه ځینې کسان به له دې عفوې څخه مستثنا وي او د هغوی نومونه به په یوه ځانګړي فهرست کې ځای په ځای شي، چې نړیوالو پولیسو (انټرپول) ته لېږل شوی او د هېوادو په دننه او بهر کې یې تعقیبوي.

**دویم:** د ملي خبرو اترو د کنفرانس پیلول، چې ټولې ډلې او بېلابېل حرکتونه به پکې راټول کړي. د دغو خبرو اترو پایله به هغه دولت ته ور کرځېدل وي، چې د سورېې د مخکې لیکل شوي اساسي قانون د بنسټونو پر اساس به رامنځته شي. دغه اساسي قانون له وړاندې چمتو شوی دی، خو د اوسنیو شرایطو په دلیل تراوسه په رسمي توګه وړاندې شوی نه دی. د هغه منلو ته د شرایطو د برابرولو لپاره به اعلان وشي، چې د ملي خبرو اترو د دغه کنفرانس د استازو کمېټه به د اساسي قانون د ارزونې دنده او د ګټو تایید پر غاړه ولري. د دغه اساسي قانون یوه مهمه نکته دا ده، چې اسلامي شریعت به د قانون جوړونې د منبع په توګه نه پېژندل کېږي.

**درېیم:** د ملي خبرو اترو د کنفرانس په پایله کې به د خلکو شورا او همدارنګه ټولې سیمه‌ییزې شوراګانې منحل شي. وروسته د نوي اساسي قانون د تصویب او د سیمه‌ییزو شوراګانو او د استازو د مجلس په کچه د ټاکنو لپاره به په چټکۍ سره میکانیزم

رامنځته شي. په دغه بهیر کې به د هېواد طایفه‌یي ویش هم وتاکل شي، چې دا به د هېواد د راتلونکي سیاسي جوړښت په جوړېدو کې مستقیم اغېز ولري.

**څلورم:** له سیمه‌ییزو او پارلماني ټاکنو وروسته به د ولسمشرۍ لپاره د نوم لیکنې امکانات برابر شي او په دې برخه کې به ټاکنې ترسره شي. له هغو اقداماتو سره به په ورته وخت کې نور اقدامات هم ترسره شي، چې پر وضعیت باندې به د هغوی بشپړ تسلط ته لار هواره کړي، پرته له دې چې موږ کوچنی اعتراض وکړو او یا خپل غږ پورته کړو:

۱.په لومړي پړاو کې د ټولو ډلو او اړخونو بې‌وسلې کول او د وسلو پر لېږد او ساتلو بندیز لګول، چې تر قانوني مجازاتو لاندې به وي او په دې کې به ټاکلی وخت زندان هم شامل وي. په دې توګه به پخوانی نظامي حالت په بشپړه توګه پای ته ورسېږي.

۲.له تحریر الشام نیولې بیا تر کوچنۍ ډلې پورې د ټولو ډلو منحل کول او پر هر ډول غیررسمي غونډه بندیز لګول. د یوه حزب، ډلې او ګوند رسمیت به یوازې د دولتي جواز له لارې ممکن وي.

۳.د امنیتي کنټرول بېرته راګرځول، ترڅو هغه جوړښتونه خوندي کړي، چې غرب غواړي په سوریه کې یې جوړ کړي او دا امنیت به تر اوږدې مودې پورې دوام وکړي.

۴.تصوفي او محدود اسلام ته د اسلامپالو راګرځول، ترڅو یوازې خپلو دیني عبادتونو ته اجازه ولري، لکه څنګه چې نورې طایفې د خپلو شعایرو د تر سره کېدو لپاره په مساوي توګه اجازه لري.

ډېر داسې مسایل شته چې ټول د مخکښې نظام د بشپړ بېرته راوستلو په لور روان دي، خو د ځینو څېرو په بدلون سره چې د غوره بدیلونو په توګه څرګندېږي؛ یعنې هغه کسان چې په بشپړ ډول د هغوی د پرېکړو اطاعت او پلي کولو ته ژمن دي. دغه نوې څېرې به د صهیونستي رژیم د حقونو تضمین، د هغوی د سرحدونو ساتنه او د امریکا ګټې په سیمه کې په تر ټولو غوره توګه خوندي کړي. سوریه به د ټولو سیمه‌ییزو عواملو لپاره په یوه پرانیستې غېږ بدله شي او په داسې ځای به واوړي چې د هغوی د فعالیتونو او تولید لپاره به زمینه برابروي. په دې توګه به ظاهري موخه د سوریې خلکو ته ارامي راوړل وي، خو په حقیقت کې به دا ارامي د هغوی دین او هویت ورڅخه واخلي.

دا همغه چل دی چې غرب یې اوسمهال پلی کوي، خو موږ ټولو ته وایو چې موږ باید شرعي حکم ته ژمن پاتې شو او هڅه وکړو چې خپل دین ته کم رانشو. موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیرې د پر ځای کولو پر مسیر ګام اخلو، چې فرمایي:

**«ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

**ژباړه:** *وروسته به د نبوت پر منهج خلافت تاسیس شي.*

پر همدغه بنسټ د قدرت له ټولو څښتنانو او هر مخلص او پوه کس څخه غوښتنه کوو، چې د الله سبحانه وتعالی حکم ته ژمن پاتې شي! موږ د الهي ژمنې د پرځای کولو په درشل کې یو، چې خپل نور بشپړ کړي. موږ باید له هغو کسانو څخه نه وو، چې

دنیا او آخرت له لاسه ورکوي او نه له هغو کسانو څخه چې الله سبحانه وتعالی یې نور کسان ځایناستي کوي. موږ باید هڅه وکړو چې د هغو کسانو له ډلې څخه شو، چې الله سبحانه وتعالی یې د خلافت لپاره ټاکي. انشاءالله! د عدالت بیرغ باید پورته کړو او اسلامي ژوند په هغه ډول پیل کړو، څنګه یې چې الله سبحانه وتعالی غوښتنه کړې ده!

هیڅ حللاره نشته ده، پرته له دې چې د دغه امت له مخلصینو سره په ګډه هڅه وکړو؛ هغه کسان چې د نبوت په منهج د راشده خلافت دولت د تاسیس له لارې د اسلامي ژوند د رامنځته کولو په لټه کې دي؛ هغه دولت چې د الله سبحانه وتعالی په مرسته به کافران له منځه یوسي، د هغوی نفوذ به ختم کړي او د امت له زړه څخه به د صهیونیستي رژیم ریښې وباسي. دغه امت د خالد، ابو عبیده، سعد، نورالدین، صلاح‌الدین، قطز او بیبرس په څېر رهبران دنیا ته وړاندې کړي دي او اوس هم زېږنده دی او په دغو نسلونو کې یې داسې مېړني شته دي، چې د امت عزت، کرامت او لوړوالی به بېرته راولي. که تیارې هر څومره زیاتې او ستونزې لوېې شي، الله سبحانه وتعالی به د دې تیارې له زړه څخه سباوون را پورته کړي، چې څېرې به روښانه او زړونه به خوښ کړي. هغه مهال به مسلمانان د الله سبحانه وتعالی په مرسته خوشاله شي.

﴿**وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَنْ يَكُونَ قَرِيباً**﴾ [اسراء: ۵۱]

**ژباړه:** *او وایي: دا به څه وخت را رسېږي؟ ورته ووایه: ښایي ډېر نږدې وي.*

**لیکوال: دارین الشنطي**

**ژباړن: صهیب منصور**